ابراهيم نعيمي ۲۰۱۱/۰۸/۱۶

# افغان ولس سوله غواړی که جګړه؟- ځلورمه برخه

په دی برخه کې غواړم چې د نړیوالو پوځونو او نړیوالو موسسو د فعالیتونو او کړنو په اړوند څه رڼا واچوم. په پای کې به تروسه هڅه وکړمه چې هغه علتونه ولټوم چې ولې د طالبانو ترنړیدو وروسته د څوکلونو په موده کې حالاتو بیرته داسې بدلون ومونداچې جګړه د پخوا څخه ډیره تنده شوه.
هغه وخت چې نړیوالو پوځونو د طالبانو حکومت نسکور کړاو ورسره یوځای ځینو نړیوالو موسسو هم د مرستو او د افغانستان د بیا رغونې وعدې وکړی، په پیل کې د حکومت په جوړولو لګیاه شول.
د امریکا، لویدیزو او یوشمیر اسلامي هیوادونو نژدی کسان د مجاهدینو مشران او یوشمیرجنګي قوماندانان ول. د دوی په اند د ډیموکراسۍ پیاده کول همدغه کسان کولای شی چې پخوانی شوروي اتحادیي دړې وړې کړ، په داسې حال کې چې په حقیقت کې د پخواني شوروي اتحاد سقوط د افغان ولسونو په سربښندنې ترسره شو. ډیرجنګې قوماندانانو د هیواد په ورانولوکې لویه ونډه درلوده. د دوي په نظر د دغو تنظیمونو د منځ څخه یې بنسټپال د بیلګې په توګه حزب اسلامې (د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ) ځیلې دی. دایې هیره کړی وه یایې په قصدي ډول د بنیادګرو اصلي بنسټ ایښودونکي لکه برهان الدین رباني، عبدالرسول سیاف د هزاره ګانو د وحدت ګوند مشران کریم خلیلي او محمد محقق په همدي ډول د دوی قوماندانان نه تنها د سیاسي ډګرڅخه لیری نه کړه بلکې د پشپړواک څښتنان یي کړل. همدغه لویدیز او امریکایي چارواکې کله ناکله چې ورته په غوصه شې د همدغو واکدارانو د جنګې جرایمو په هکله بحثونه تاوده کړي. ولې په عمل کې ددغورهبرانودواک دټینګښت لپاره نه یوازي سیاسي ملاتړیي کوی بلکې مالي مرستي هم په پریمانه ډول ورکوي.
د دغي لنډې یادوونې څخه داسې پایلوته رسیږو:
ـ یا به داسی وی چې امریکایانو په رښتیا پلان نه درلود چې په هیواد کې یوثابت او قانوني نظام رامنځته شي.
ـ داسې هم کیدای شی چې د دغو بنسټپالو په اصلیت به نه پوهیدل.
ـ دا ښکاره ده چې د دوی په اصلیت پوهیدل خو د پخواني شوروی اتحاد د نړوالو یاران یي ول او د بلې خوا د دوی د څاروګر دا داروفعال او باوري غړی ول. په داسې حالاتوکې نو ډیره ستونزمنه وه چې پرنورو(وطنپالو) باور وکړي چې د دوی د ډیموکراسۍ د پیاده کولو جوګه اوسي. امریکایان د عراق په جګړه کې سم وپوهیدل چې د دوی د ډیموکراسۍ صادرول د پخواني شوروی اتحاد د سوسیالیزم ترصادرولو اسانه کړنه نه ده. ولسونه خپل تاریخ او کلتور ونه لری چې د دټولنو بنسټونه وړوي. د داسې بنسټونو نړول له یوې خوا نا ممکنه کاردی ولې د بلې لورې که دا کړنه په انقلابي هڅوترسره هم شي دهغې ټولنې لپاره چې بنسټونه یي ونړوی، یوه لویه فاجعه ګڼل کیدای شی.
ښه بیلګه یې دولسي چین کلتوری انقلاب وه. په دی اړوندز ما ژباړل شوی لیکنه چې په nahimi.dk/pashto کې ۱۰/ ۱۲/ ۲۰۱۱ زکال نیټه خپره شوی ده اړونده برخه یي ولولئ: لیکنه د مشهور تاریخ پوه Frank Dikötter ده.

**«دلوی ټوپ وهل د پرمختګ په لوری (کلتوري انقلاب)**
کلتوري انقلاب د چین دکمونست ګوند سیاسي – اقتصادي پالیسي وه چې د «لوی ټوپ د پرمختګ په لوری» په نوم یی ونوموله. دغه لوی ټوپ د ناوړه حالت د رامنځته کیدو ریښه ګڼل کیدای شی. په ټولیزه توګه چین د زاړه سیستم درلوونکی زراعتي هیواد وه چې یوې مو ډرنې صنعتي او اشتراکیه ټولنې ته یې ټوپ واهه. پایله یې دهغه ټولنې د پاره یوه ډیره ویجاړونکی تجربه د هیوادونو په تاریخي بهیرکې ګڼلای شو.
د ټول زراعتي سکتورشریک کول(کولیکټیف کول) چې په بشپړډول د اشتباهاتو ډ که نظریه وه چې د انقلابي جدي غوښتنو څخه و ورانونکی حالت ته یې بدلون وموند. د بیلګې په توګه د هقانان او دښار خلک په ګډه د یوې داسې نظریې تطبیق ته را وبلل شول چې د اوبو د یولوی ډنډسره پرتله کیږی چې خوځښت ونلری. پایله یې په لویه پیمانه د زراعتي محصولاتو د تولیدکمښت شو. د لیکوال فرانک پلټنې د چین د ارشیف څخه څرګندوی چې د ماهو ترمشری لاندې ټولو مشرانو د صادراتو کچه د خپل ولس سره دتباهی او لوږې په بیه جګه بیوله. د نورو ستونزونه علاوه په دی ویجاړونکی حالت کې د کمونست ګوند واکداري دومره وچه او جامده وه چې د میلیونونو انسانانو دمړینې سبب شوه. لوږه دیوې سیاسي وسلې په ډول وکارول شوه. هغه کسانوچې د ملي اقتصاد سره لږه مرسته کولای شوه باید دغی وسلې ته یې غاړه ایښی وای .»
دغه وه دیو کلتوري جبري او ښتون پایله چې تلفات یي دمیلیونونو انسانانو مرګ او ژوبله شوه، بیا هم بري ته و نه رسید.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لویدیزد امریکا په مشرۍ دراوړي ډیموکراسۍ د پیاده کولو لپاره د ډیروستونزو سره مخامخ دي:
۱ ـ د ډیموکراتیکو جوړښتونو د پیاده کولولپاره پرهغه کسانویې تکیه کړی ده چې خپل ټول ژوند یي د ډیموکراسۍ سره نه تنها په مخالفت کې تیرکړی دي بلکې د ډیموکراتیکو ارزښتونو پرضدیي د ډیموکراسۍ په لسیزه کې په اګاهانه ډول وسلوته لاس واچاوه. چې د دادودخان دریفورمونو پر ضدیي هم په وسلوال بغاوت پیل وکړ.
۲ ـ امریکایان او لویدیز دټانکونو او وژونکو وسلوسره زموږ هیوادته راغلل. ډیموکراتیک ارزښتونه هغه وخت د ولسونو د پاملرنې وړګرځی چې په پیاده کولوسره یې ولس ګټې لمس کړي نه داچې هره ورځ میندې بې میره او زامنو کړي. په داسې حالاتوکې نه یوازې د افغانستان خلک بلکې د مځکې د کرې پرمخ هرانسان منفي غبرګون ښیي اونفرت ورڅخه څرګندوي.
۳ ـ د راغلو پوځونو بې خبری د افغانانو د ځانګړو کلتوري ارزښتونو څخه هغه اصلي عامل دي چې د دوی ښه هم زموږ ولس منلای نه شي.
۴ ـ د بهرنیو پوځونو او په ځانګړې توګه د کرایه شوو کمپنیو د وسلوالو بدمعاشونو ظالمانه او غیري بشري کړنې د ښځو، ځوانانو او حتي د زړو په مقابل کې د ولس د قهرهڅول ځوبرابره ګړندۍ کړی. په دی اړوند دهالنډیانو لخوا جوړشوی مستند فلم لیدل د اروزګان په ولایت کې هرڅه بربنډ کړي دي.
۵ ـ د امریکایانو خپل منځې کړنې چې د دوی لپاره عادي ښه لری چې بیلګه یې دامریکادسفارت دساتونکو د همجنسبازانو محفل په کابل کې یادولای شو چې انځورونه یې د امریکې د بهرنیوچارو وزیری هیلري کلنټن ته هم لیږل شوی دی، پرافغان ولس یې ډیره ناوړه اغیزه وښندله او نور په لسګونو د لایل شته دی.
د دغو خود سریوعوامل به ډیروې ولې په اساسي عواملوکې د سرې جګړې پای ته رسیدنه هم شمیرل کیدلای شي. په دی اړوند د ښاغلي شاه محمود حصین د کتاب (تاریخي لویدنه )، ۴۱ مخ ولولۍ :
« واقعیت خو دادی چې د سړې جګړې (که جګړه ورته وویل شو) دوران له ټولو تر خو او دردوونکو حالاتو سره سره د بشریت له پاره په عامه توګه او د دریمې نړۍ د خوارو اولسونو لپاره په ځانګړې توګه د اوسنې  حالت په پرتله دومره بیساری دردوونکی او ویره وونکی نه و. هلته د ځواکونو یو نړیوال بیلانس ترسترګو کیده. یوه اړخیزه نړۍ واکې شونې نه وه، بې شمیره نړیوال قوانین، کنوانسیونونه دهر ډول فردي، ټولنیزو انساني حقوق په هکله پریکړه لیکونه، د سیاسی او مدني آزادیو د خوندي ساتلو، د انسان وژنې او زندۍ کولو د مخ نیولو او د ښځو او ماشو مانو د حقوقو او بسیاینې له پاره نړیوالې پریکړې او داسې نورڅه لږتر لږه د کاغذونو پر مخ را منځ ته شوې وو. هغه  وخت پر اولسونو یو اړخیز وردانګل له نړیوالې کرکې او مخالفت  سره مخامخ کیدونکی و. وسله والې  سیالۍ هم څه ناڅه ترځارنې لاندې وې. نړیوالو قوانینو او مقرراتو هم یو څه ارزښت درلود. دهیوادونو خپلواکي او ملي واکمني هم څه ناڅه خوندي وي او آن د ملګرو ملتونو نړیوال ارزښت دومره نه وه را لویدلی. اوس چې وایي سړه جګړه پای ته ورسیده څه نه دي چې نه کیږ.ي .»
دهمدي کتاب په ۲۵ مخ کې ولولی : « دغه نوی نظم د تاریخ پای نه دی. یوه نا پیژندل شوې آرامه هم غړ.ې جوړیدنه هم نه ده، اوس چې سړه جګړه پای ته رسیدلې او بازار بری موندلی، دښتو پیښیدل تر پخوا زیات شویدی...هماغسې چې ختیځ او لویدیځ د برلین د یوال سره جلا کړي وو، نا برابري به هم هرو مرو نړیوال نظم سره وویشي. ژاک اتالي »
دپورته بیان څخه ښکاره ده چې افغان بیچاره ولس نه دطالب خوځښت رامنځته کړي او نه یي هم داسې جهادی جګړه مار رامنځته کړی دی چې دولس پرمال، شتمنیواو حتی پرماشومو نجونو جنسي تیری وکړی. ولس یوازې دخپل هیواد د استقلال لپاره د خپلونیکونو په شان ملي او ولسې خوځښت رامنځته کاوه ولې هغه هم دپ اکستان لخوا په نطفه کې خاموش شو. دا هرڅه چې وینی د CIA او ISI په لارښوونه او دیوشمیر نورو هیوادونو د څارګرو ادارو زیږنده ګڼل کیږ.ي.
پای نوربیا...



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ